سپېڅلي کردارونه

# وادي ګومل
# او خدائي خدمتګار تحريک

رحمت شاه قرېشي

د خدائے بخښلي باچا خان بابا تر سپوري لاندې چې کله دا تحريک شروع شۀ نو د نورو پښتنو په شان د ګوملې اولس په دې تحريک کښې د زړۀ د تل نه برخه واخسته او په ډېر لږ وخت کښې ئې ډېر کار وکړو. په دې خلقو کښې د ځينو نومونه او څۀ د زندګۍ حالات تاسو ته وړاندې کوو.

۱-۲) دوست محمد ناصر او ګل محمد ناصر:

د لاج مير ناصر زامن وو چې د ګوملې ښار سره جخت رغزي نامي کلي کښې پېدا شوي وو. دوست محمد ناصر په کال ۱۹۰۹ء کښې پېدا شوے ؤ او د نهۀ اويا (۷۹) کالو په عمر کښې (۱۹۸۸ء) کښې وفات شو او د دۀ کشر ورور ګل محمد ناصر په ۱۹۱۱ء کښې پېدا شوے ؤ او د درې اتيا (۸۳) کالو په عمر ۱۹۹۲ء کښې وفات شو.

د پېرنګي په دور حکومت کښې چې څنګه په نورو پښتنو ظلمونه کېدل نو دوي هم ترې بچ نۀ شول، فصلونه ئې ور وسېزل، کورونه ئې لُوټ شول، زمکې ئې شاړې شوې خو دوي دا تحريک پرې نۀ ښودو.

نو بيا ئې ونيول او ډېره اسماعيل خان چې اويا کيلومېټره لرې پروت دے، هغه ځائے ته يوړل او بيا به ئې د هغه ځائے نه د پېدل راتللو سزا ورکوله. خو دوي همت نۀ بائللو بلکې نور ملګري ئې پېدا کړل، په دې ملګرو کښې اوله ملګرتيا ورسره سېد غلام شاه مياخېل وکړه.

۳) سېد غلام شاه مياخېل:

د ډېره اسماعيل خان ضلعې درابن کلا نومي ښار کښې پېدا شوے ؤ چې تقريباً د اتياو کالو په عمر کښې وفات شو. په درابن او شاوخوا علاقه کښې د خدائي خدمتګار تحريک شروع کول د دوي کار نامه ده.

حاجي عبدالله شاه (سي اينډ ډبليو ايکسين) حاجي عبدالرزاق زرين او نور ګڼ شمېر کسان لا تر اوسه پورې د تحريک سره تړلي دي او د پارټۍ خدمت کوي.

د دۀ په نامه يو کلے اباد دے چې ورته غلام شاه وستۍ وائي.

٤) شېخ بران شېخ:

د وادي ګومل په زړۀ يعنې ښار ګومل بازار کښې پېدا شوے ؤ. کله چې باچا خان ګومل بازار ته راتللو نو شېخ بران (باران) د استقبالي جلوس ته مخکښې روان ؤ او د انقلاب زنده باد نعرې ئې

وهلې نو پېرنګي پولیس دے د نعرو نه منع کړو خو دۀ ته خپلې مور ووې چې کۀ چرې تا د پېرنګي خبره ومنله نو زۀ به درته حق شُودې ونۀ بخښم کۀ انګرېز تا په وهلو مړ کړي نو خبر دے.

۵) سید حسین شاه صیب:

دے هم د ښار ګومل بازار او سېدونکے ؤ چې تقریباً د اتۀ اتیاؤ (۸۸) کالو په عمر کښې وفات شو، شاه صیب ته الله تعالی هر څۀ ډېر ورکړي وو، دۀ به د پارټۍ غریبو ملګرو ته غلې، جامې او نور د ضرورت سامانونه مفت ورکول.

۶) حاجي سید احمد شیخ:

د رغزي کلي غوریزي قوم سره تعلق لري، د اول نه تر اوسه پورې د پارټۍ خدمت کوي.

۷) عبدالله خان بلوچ:

د نورو خدائي خدمتګارانو غوندې هم یو غریب کارکن ؤ چې د اتۀ اویا (۷۸) کالو په عمر کښې وفات شو.

یوه ورځ باچا خان ګومل بازار ته راتلو نو ملګرو ووې چې بندوبست به په څۀ کوو، مونږ نه خو هر څۀ انګرېز ټول کړل، زمونږ په کور کښې خو هیڅ هم نشته نو بلوچ صیب ورته ووې چې خفه نۀ شئ زما د جوړې (زمیداری) غوڅکے شته هغه به حلال کړو چې پښتنو مو په ځائے شي، نور به الله خیر کړي. د دوي نور ملګري دا دي: ۱- ملک مهرخان. ۲- سرفراز راجپوت. ۳- عمردراز راجپوت. ٤- نورمحمد بهم. ۵- عجب خان شیراني. ٦- بره خان انده خیل. ۷- عزیزالله شیخ. ۸- خان جهان (مهاراج).

۹- نظردین جرنیل:

د ګومل بازار نه نمر ختیز ته پروت کوټ اعظم نومے کلے چې کۀ ورته مونږ د خدائي خدمتګارانو ګړ ووایو نو غلطه به نۀ وي. نظرالدین جرنیل هم دې کلي کښې پیدا شوے ؤ.

یو ځل چې باچا خان په بنو کښې ګرفتار کړے شو نو جرنیل صیب فوراً د ټانک عدالت ته ځان پېش کړو چې ما هم ګرفتار کړئ، د هغه وخت A.C عباس چې د پېښور او سېدونکے ؤ او په خپله هم په دې تحریک کښې شامل ؤ، هغۀ ورته ووې تا مونږ نۀ شو ګرفتارولے، ځکه چې کومه خبره باچا خان کوي هغه مونږ ټول کوو.

نو دوي دواړه A.C صیب او نظردین) یو ځائے بنو ته لاړل چې ورسره میرا خان ټانګې وال د بنو هم ورسره شو او د باچا خان سره ئې ګرفتاري ورکړه او په یو ځائے ئې قید تېر کړو.

د جرنیل صیب د ملګرو نومونه دا دي:

۱- رازمحمد بیټني. ۲- سلطان بیټني او داسې نور ډېر کسان وو چې د وطن د آزادۍ دپاره جنګېدل.

۱۰) حاجي عبدالحمید خان کُنډي:

د ټانک کُنډي خانه ګل امام نومے کلي کښې د خانانو په خاندان کښې پیدا شوے ؤ. د ۱۹٤٦ء په انتخاباتو کښې خان صیب د کانګریس په ټکټ ئې د مسلم لیګ نواب قطب دین نه صرف په ۵۱٦ ووټونو پاتې شو. د دې سیاسي کور نور ډېر کسان تر اوسه پورې د ملک په ګوټ ګوټ کښې د پارټۍ

خدمت کوي، مثلاً ظفر خان کُنډي، جمشيد خان کُنډي، گلزار خان کُنډي (کراچي)، خالد خان کُنډي او رشيد الله خان اېډوکېټ او داسې نور ډېر.

۱۱) غلام محمد تتور:

د تتور کلي علاقه بيټني ضلع ټانک او سېدونکے ؤ، د خدائي خدمتگار تحريک د باچا خان په وخت کښې د علاقې صدر هم ؤ.

د تتور صېب د محنت په وجه د بيټنو علاقه کښې خدائي خدمتگار تحريک مخ په وړاندې لاړو او اوس هم ډېر کسان پکښې شامل دي. مثلاً فضل کريم تتور، عظمت تتور او زاړۀ کسان رحمان جرنېل لټي کلے، زير محمد (زيرک اکا) وريشمين خان بزائے کلے، منتظر بيټني گوټ گلان، اميرخان کمانډر کوټ گلان، مومين خان لټي کلے، ميرول ټانک، صابري ټانک.

د خدائے بخښلي تتور صېب د نظم څو مشهور لفظونه:

مونږ کۀ پښتي ماتې کړي
خو تۀ مو ووټ حقداره کړي

۱۲-۱۳) حاجي جان گل بابو او امان گل محسود ملک دينائے:

په اصل کښې د وزيرستان اوسېدونکي وو خو په دې وخت (يعنې د تحريک د شروع کېدو په وخت) دوي د ضلع ټانک گروکي مچن خېل علاقه گومل کښې اوسېدل او په ټانک او ډېره اسماعيل خان کښې ئې ډېر جائداد ؤ خو د تحريک سره د تړاؤ په وجه انگرېز هر څۀ ترې نه ضبط کړل.

بابو جان گل ته ډاکټر خان صېب ورور وئيلي وو او د خپل سر پټکے (لونگۍ) ئې ور کړې وه او چې کله ډاکټر خان صېب د ملک نه بهر په دوره تلے ؤ نو د ۴۸ گېنټو دپاره ئې وزيراعظم هم جوړ کړے ؤ.

بابو صېب خپله خبره کوله چې يوه ورځ زۀ د ډاکټر خان صېب سره ناست وم چې ورته يو انگرېز د ملاقات دپاره راغے نو ډاکټر خان صېب هغه بهر کښېنولو او زما سره ئې خبرې شروع کړې نو ما ورته ووې چې ډاکټر صېب هغه انگرېز خو به اوس په انتظار ستړے شوے وي نو ډاکټر صېب ووې چې زۀ دې کس ته سزا ورکوم چې ذليل شي، دا خلق زمونږ مجبورو پښتنو سره هم دغسې سلوک کوي. د بابو جان گل خاندان ټول تعليم يافته دے چې پکښې غلام سرور سېکرټري، منظور خان ډاکټر، محمد ايوب خان او بن يامين خان دي.

۱۴) حاجي بادشاه جان محسود (وزيرگائي):

حاجي صېب د جنوبي وزيرستان په کړمه نومې کلي کښې پېدا شوے ؤ خو د تحريک سره ئې تعلق په ډېره اسماعيل خان کښې جوړ شو.

حاجي صېب ته باچا خان بابا خپله رېډيو په تحفه کښې ورکړے وۀ. باچا خان بابا به چې کله هم د وزيرستان په دوره راتلو نو د حاجي صېب په حجره کښې به ئې جلسه کوله.

حاجي صېب د اتۀ اتياؤ (۸۸) کالو په عمر کښې وفات شو. ▪

(دې معلوماتو راټولولو او مضمون ليکلو کښې ما سره خپل ملگري شبير احمد ډېره مرسته وکړه).